د ستراوځواکمن څښتن تعالی په سپیڅلي نامه

Logar

# لوګر

میاشتنۍ خپرونه

د تا سیس کال: ۱۳۸۳ هـ.ل

دلوګر اطلاعاتو اوفرهنګ ریاست میاشتنۍ سیاسي، علمي، ټولنیزه، دیني او فرهنګي خپرونه

**دحضرت عمر(رض) غوره ویناوې :**

**په ځان باوردنیکمرغۍ دتادو لومړی خښته ده .**
**پور لږ واخله، چې آزاد اوهوساژوندوکړې .**
**فضل اوادب ډیربښه میراث دی .**
**ژر ژر اوبې ځایه مه قهریږه اوچاته بده خبره مه کوه،چې بدوانه ورې او وخت دې تریخ نه شي .**
**دبیکاره سړی دماغ دشیطان خونه ده، له کارکوونکي سړي څخه شیطان لیرې تښتي .**

یکشنبه د۱۳۹۷ کال د کب د میاشتې شپږویشتمه، د ۲۰۱۹ عیسوي کال دمارچ اولسمه | ۱ | پرله پسې ګڼه (۱۰۱) لومړی کال، لسمه ګڼه

سرلیکنه ...

## د هیواد دملي سرتیرو د ورځې په ویاړ؛

**افغان ملي امنیتي سرتیري دهیواد او هیوادوالولپاره یو اوسپنیز کمربند دی، چې تل دهیواد له خاورې بشپړ ملاتړي او هڅه کوي، چې خپل هیواد له یرغلګروڅخه په امن کې وساتي.**

**ملي امنیتي ځواکونه چاته اجازه نه ورکوي، چې د ولسونو د ځورولو لامل شي اوپه هر ډول سختو شرایطو کې هڅوی، دافغانستان له خاورې او طبیعي شتمنیوڅخه دفاع او ساتنه کوي، نو ولس ته پکار ده، چې دخپلو ملي امنیتي ځواکونو ملاتړي وکړي، ځکه دوی شپه او ورځ د ولس په خدمت کې دي او دګران هیواد دخاورې ساتنه دخپل دسرونو په بیه کوي .**

**د ملي ځواکونو یوازینۍ موخه په هیوادکې د ډاډمن امنیت تامینول، ورانکارو او ویره اچوونکو کسانومخه نیول او دپردیو یرغلګرو مخه ډب کول دي. نو دوی سره څومره ملي احساس شته، خو ځیني کسان چې غلط پوه شوي اویا دخپل وطن لپاره درناوی نه لري، زموږ له ملي امنیتي ځواکونوسره جنګیږي. ځکه دوی ته دهیواد ساتونکي بهرني معلومیږي؛ نه هیڅکله باید داسې ونه انګیرل شي، بلکې تل دا یاد وساتو، چې دغه امنیتي ځواکونه زموږ ددې خاورې بچیان دي، دکلي اوکور خلک دي، موږ اوتاسو د دښمن له شره ساتي. نوبیا دوی سره دڅه لپاره جګړه؟!**

**باید دغه ځواکونه موږ نورهم پیاوړي کړو، له هغوی سره اوږه پر اوږه ودریږو اودخپلې خاورې دساتنې او پالنې لپاره په ګډه مبارزه وکړو.**

**که مخکې دوی سره جنګیدلو اویا اوس ځیني ډلې جنګیږي، لږ دې فکروکړي، چې ددغوساتونکو ژوند ختمول دخپل ځان تباه کول دي، ځکه که زموږ هیواد امنیتي ځواک ونه لري، نو خپل وګړي اوهیواد به په چا وساتو، بیا بهرني اوګاونډي هیوادونه به په موږ پاچاهي چلوي، پرموږ به حکومت کوي؛ نورچاته اجازه ورنه کړو، چې زموږ پرخاوره او ولس لوبې وکړي .**

**هرافغان خپل غیرت اومیړانه په ښکاره ډول دهیواد دښمنانو ته وښایي، چې اوس هریوه دخپلو پلرونو اونیکونو په څیر سرونه دهیوادپه ساتنه کې قرباني کوي او دهغوی لار یې تعقیب کړې او کوي یې. ځینو لپاره به څومره ښه وي، چې دخپل ملي امنیتي ځواکونو سره ودریږي اوپه بشپړه توګه ورسره مرستندویه اووسي. نودغلیم مخ به تل دسکاره په شان تور شي او په افغانستان کې به نور د لاسوهنو څخه ډډه وکړي. ځکه بیا دوی مخ نه لري، چې موږافغانان په خپلو کې سره بیل او دښمن کړي . زموږ قوت په یوالي کې دی، ددې قوت په ډاګه کولولپاره نن ټول ولس ژمنه وکړو، چې دهیواد دامنیتي ساتونکو خدمت اوله هغوی سره یوځای په سنګرونو کې ودریږو، ترڅو زموږ یوالی دښمن ته ښکاره شي، چې دافغانانو ماتول د امکان څخه لیرې خبره ده .**

**نو راځئ، چې ټول افغانان په خپل مټ هیواوالو ته خدمت وکړو او دنور و خلکوخبرو ته غوږ کینږدو او دویجاړیو پرځای دجوړولو او سمسورولو په فکر کې وواسو او دملي امنیتي ځواکونو پوره ملاتړي وکړو.**

**تربیا دخدای پامان**
**مدیر**

## د لوګر ولایت نوي مرستیال والي په کار پیل وکړ



دکب اتمه: د لوګر ولایت لپاره ټاکل شوي مرستیال والي تورنجنرال محمد نبي احمدزي رسماً د دغه ولایت د والي الحاج محمد انور خان اسحاقزي لخوا د دولتي ادارو رییسانو او دولایت مقام کارکوونکو ته ور وپېژندل شو.

د مرستیال والي لپاره د لوګر ولایت مقام کې غونډه نیول شوې وه، چې پکې د لوګر والي الحاج محمد انور خان اسحاقزي ، د دولتي ادارو رییسانو ، ولایت مقام کارکوونکو ، قومي مشرانو ، ځوانانو او ګڼو نورو مسؤلینو ګډون کړی ؤ.

لوګر والي نوي مرستیال ته د دندې د مبارکۍ تر څنګ وویل، چې په بشپړ ډول له نوي مرستیال سره همکار دی. اسحاقزي خپل مرستیال ته وویل، تاسو دلوګر اوسېدونکی یاستئ او د دغه ولایت له خلکو او جغرافیې سره ښه بلدیت لرئ، چې له مخې سره به یې تاسو وکولای شئ په یاد ولایت کې غوره چوپړتیاوې وړاندې کړئ.

اسحاقزي له نوي مرستیال څخه وغوښتل تر څو په اداري برخه کې ډېرې هلې ځلې ترسره کړي او په پوره همغږۍ سره خپلو کارونو ته دوام ورکړي.

مرستیال والي تورنجنرال محمد نبي احمدزي وویل، چې په یوازې ځان هېڅ څه نه کېږي ، پکار ده، چې قومي مشران، د ادارو رییسان، ځوانان او د لوګر وګړي له خپل نظام سره همکار پاتې شي او د حکومت درد خپل درد او ګټه یې خپله ګټه وبولي.

د یادونې وړ ده، چې تورنجنرال محمد نبي احمدزی تر دې وړاندې په ملي دفاع وزارت کې د ښوونې او روزنې د ریاست د رییس په توګه په دنده پاتې شوی دی او د افغانستان د نظام او حکومت لپاره یې خپل تېر عمر په چوپړ او د خلکو په رضایت او خدمت کې تېر کړی دی.

**د لوګر د رسنیو مرکز**

## د خبریالانو د خوندیتوب کمېټې میاشتنۍ ناسته د لوګر د والي په مشرۍ ترسره شوه

دسلواغې ۲۸ مه: دغه ناسته د لوګر ولایت د والي په کاري دفتر کې ترسره شوه، چې پکې د ټولو رسنیو استازو، خپلواکو خبریالانو او د رسنیو کارکوونکو ګډون کړی ؤ. یاده ناسته د قرآن پاک په مبارکو آیتونو پیل شوه.

وروسته د اطلاعاتو آمر امین الله صفا ټولو خبریالانو ته د ښه راغلاست تر څنګ د تېرې ناستې په پرېکړو رڼا واچوله . په یاده ناسته کې د لوګر د خبریالانو د آزادۍ ټولنې مشر نور الله ستانکزي د یاد ولایت د خبریالانو یو شمېر ستونزې له والي سره شریکې کړې.

هغه زیاته کړه په راتلونکي کې باید په لوګر کې د یوشمیر ادارو له مسؤلینو سره د همغږۍ یوه غونډه ترسره شي؛ تر څو خپلې ستونزې نېغ په نېغه له هغوی سره شریکې او په خپلو کاري برخو کې د لاښه خدمت لپاره زمینه برابره کړو. همدارنګه د لوګر د خبریالانو د خوندیتوب کمېټې مشر خان ولي احمدزي وویل: په لوګر کې مېشتو ژورنالستانو ته باید یو پرېس کلپ په واک کې ورکول شي، تر څو ژورنالستان په دغه ولایت کې یو ځانګړی مرکز ولري، چې له مخې به یې د ژورنالستانو ډېری ستونزې حل او هم به د ژورنالستانو تر منځ یوه ښه همغږي ته زمینه برابره شي.

د لوګر والي الحاج محمد انور خان اسحاقزي وویل، چې موږ او تاسې ټول



په یوه کښتۍ کې سپاره یو او هدف او لاره مو یوه ده. اسحاقزي زیاته کړه، چې ټول ژورنالستان باید د خبر په خپراوي کې یووالی ولري او په پوره همغږۍ سره خپلو فعالیتونو ته دوام ورکړي. ښاغلي اسحاقزي وویل زه له خبریالانو سره پوره مرستې او همکارۍ ته چمتو یم او د پریس کلب د جوړېدو تر څنګ به یې هر ډول غوښتنو او ستونزو ته رسېدنه وکړم.

## نزدیک به هشت هزار کیلوگرام موادانفجاریه درلوگر کشف وضبط شد



نزدیک به هشت هزارکیلوگرام مواد انفجاریه اسلحه وبم دستی دراثرسعی وتلاش نیروهای امنیتی ازیک مخفیگاه درولسوالی ازره لوگرکشف وضبط گردید.

شاپوراحمدزی سخنگوی قومندانی امنیه لوگرمیگوید که منسوبان قوماندانی قطعات خاص پولیس ملی در لوگر، به تاریخ 20 دلو عملیاتی را درمربوطات قریه (ارغک ) ولسوالی ازره راه اندازی نمودند که درنتیجه این عملیات، مقدار 7750 کیلوگرام مواد انفجاریه (امونیم نایتریت) از یک مخفیگاه کشف و ضبط گردیده است. همچنان، تجهیزات نظامی به شمول 2 میل اسلحه مختلف‌النوع و 2 قبضه بم دستی از این مخفیگاه نیزبدست نیروهای امنیتی افتیده است. در پیوند به نگهداری این مقدار مواد انفجاری و تجهیزات یک تن نیز بازداشت گردیده است .

**عدیل**

**داساسي قانون دحکمونو پیروي، دقوانینواطاعت او دعامه نظم اوامنیت رعایت دافغانستان دټولو خلکو وجیبه ده. دقانون له حکمونو څخه بې خبري عذر نه ګڼل کیږي. (داساسي قانون شپږپنځوسمه ماده)**